اخري برخه




# د پښتونخوا مقدمه

هدايت الله خان

د 1988 او 1998 د مردم شمارۍ مطابق پښتو ويونكي آبادي اتيا فيصده ده. د هندكو، چترالي، كوهستاني او ګوجري ژبو د ويونكو د آبادي مجموعي تناسب 18 فيصده دے او پاتې دوه فيصده كښې په مجموعي ډول سرائيكي، بلوچي، سندهي، پنجابي او اردو ويونكي شامل دي. دا خبره دې ياده وي چې په اتيا فيصده پښتو ويونكي آبادۍ كښې قبائلي علاقې شاملې نۀ دي. د قبائلي علاقې خلق په نسلي، قامي، لساني او جغرافيائي لحاظ د دې صوبې سره تړلي دي يعنې د دې صوبې برخه ده. چرته چې 99 فيصد نه زيات خلق پښتو وائي نو كۀ دا ورسره شامل كړے شي دلته د پښتنو فيصدي90 فيصدو نه هم سېوا كيږي. په دې كښې د بلوچستان پښتانۀ نۀ دي شامل او هغه لكونه پښتانۀ پكښې هم شامل نۀ دي چې په مستقله توګه د پاكستان په نورو صوبو كښې ژوند كوي. د يوې اندازې مطابق صرف په سنده كښې 40 لكه پښتانۀ آباد دي. دا شمېره د نن نه ???شل او لس كاله وړاندې شوې ده. دلته دا خبره هم ياد ساتل پكار دي چې په قبائلي علاقو كښې د مخصوصو كشالو له كبله د هغۀ ځائے د شوې سرشمېرنې په رپورټ پوره باور هم نۀ شي كېدے او هم دا وجه ده چې د قبائلي علاقو خلق هم دا نۀ تسليموي او د هغوي دعوىٰ ده چې زمونږ آبادي د يو كروړ نه سېوا ده. حال دا دے چې د 1998 سرشمېرنه كښې د هغوي آبادي 5.7 ميلينه ښودلې شوې ده.

د پښتونخوا مخالف كالم ليكونكي د بي لارې كوونكو ليكونو هدف اكثر د هزارې هندكو ويونكي ورونه وي نو ځكه دې پله هم توجه وركول ضروري دي.

د هندكو ويونكو زيات شمېر په هزاره كښې دے. د هزارې نه علاوه د پېښور، كوهاټ او ډي آئي خان د ننه ښاري آباديو كښې هم د هندكو ويونكو څۀ لږ شمېر آباد دے. هزاره د صوبې د ټولې آبادۍ شل فيصده ده او دا د ابېټ آباد، هري پور، مانسهرې، بټګرام او كوهستان په پنځو ضلعو كوهستان او

بټګرام کښې پښتو او کوهستاني د واضح اکثریت ژبې دي. په دې دوو ضلعو کښې هندکو ویونکي نشته. د ایبټ آباد، هري پور او مانسهرې ضلعو کښې هندکو اکثریتي ژبه ده چې ایبټ آباد کښې 95 فیصده، هري پور کښې 90 فیصده او مانسهره کښې 70 فیصده هندکیان آباد دي. په دغه ضلعو کښې د پښتو ویونکو آبادي بالترتیب 10-10 او 30 فیصده ده. بټګرام کښې د پوره ضلعې اکثریتي ژبه پښتو ده. دغه شان د هري پور په غازي او سریکوټ او د مانسهرې په بټل، بفه او اوګی کښې پښتو اکثریتي ژبه ده. په مجموعي ډول هندکو په هزاره ډویژن کښې د 51 فیصده خلقو ژبه ده او پاتې شوې49 فیصده کښې د پښتو، کوهستاني او ګوجري ژبې شاملې دي چې پښتو پکښې 30 فیصده ده. دلته یوه بله خبره هم کول ضروري دي. د بټګرام د پوره ضلعې او د مانسهرې د پښتو ویونکو پښتنو نه علاوه د هزارې په هندکو ویونکي ابادۍ کښې خپله یو لوئے شمېر د هغه پښتنو قبیلو دے چې د علاقائي اثراتو له کبله ئې خپله ژبه پرېښې ده یا ترې پاتې شوې ده. په دوي کښې د هري پور مشواني، طاهرخېلي او ترین، د ایبټ آباد ضلعې جدون او یوسفزي او د مانسهرې ضلع کښې شامل د پاټا علاقې کالا ډاکه پښتانهٔ قبائل شامل دي.

دغه رنګ دې تېره موده کښې چې د پېښور په نشترهال کښې د ګندهارا هندکو بورډ له اړخه فرنټئیر لینګوېجز نېشنل کلچرل کانفرنس" شوے ؤ نو هغې کښې دوي نوے انکشاف کړے ؤ چې په دې صوبه کښې د ېرش ژبې وئیلے کېږي او د صوبې د نوم په حقله هم د دوي دا موقف دے چې نوم داسې پکار دې چې د دې ټولو ژبو نمائندګي کوي.

دا ژبې داسې دي چې اکثریتي ویونکي ئې زرګونو یا سوونو کښې دي تر دې چې د یوې ژبې بدېش پکښې صرف درې تنه ویونکي پاتې دي نو داسې نوم څنګه ممکن نهٔ دے چې د ټولو ژبو نمائندګي وکړي کهٔ د دېرش ژبو خبره سمه وګڼو نو د فاټا سره د دې صوبې د پښتو ویونکو آبادي نوي فیصده ده نو پاتې 29 ژبې چې صرف لس فیصده دي څنګه د 90 فیصده برابر کړو.

د دې اعدادو شمار وړاندې کولو نه زمونږ مقصد څهٔ لساني تعصب پېدا کول نهٔ دي. د پښتونخوا ټولې ژبې د پښتونخوا سرمایه ده او ټولې د ډېرې د احترام قابلې ژبې دي.

د پښتونخوا د نوم د مسئلې جائزه د دې د تاریخي جغرافیائي او قامي پس منظر کښې د دې مقصد د پاره واخستې شوه چې یو خو د دې مسئلې اصلي نوعیت واضح شي او دوېم د دې مخالفینو ته دا احساس ورکړے شي چې د پاکستان وفاقي ډانچه دلته د اوسېدونکو ټولو قامونو په اشتراک ولاړه ده او د دې د مضبوطوالي او بقا انحصار د دې قامونو د حقونو په احترام کښې دے. د دې وفاق دوام او استحکام د دې د اکایانو دحقونو په ضمانت ورکولو سره ممکن دے. د دې د پاره دا ضروري ده چې د خودساخته روایتي او منفي نعرو په شور کښې د دوي د حقونو پېټولو او وهلو لاره پرېښودې شي او د پښتونخوا د نوم د مخالفت په ځائے پښتنو ته دا خپل قامي او جائز حق ورکړے شي.

(د امجد شهزاد ترجمه)